# Sacrifice

## Pashto



# قربانی

Adapted from Faud Issa

فواد عیسیٰ

# Sacrifice

# قربانی

## پشتو

# قربانی

## ګرانو دوستانو، قدرمنو خویندو او ورونړو،

په ټوله دنیا کښې سړی او ښځې ټول خبر دی چه خدائ پاک موجود دے. هغوئ غواړی چې خدائ پاک د نژدې نه وپیژنی او هغوئ غواړی چې هغه ښه وپیژنی. د خدائ پاک سره نژدې کیدو د پاره، په نورو مذهبونو رسمونو کښې، خلق قربانئ کوی او دا امید کوی چې په دی عمل به خدائ پاک خوشحاله شی. دا مذهبی رسم په ډیرو مذهبونو او رواجونو کښی موجود دے.

په دې کښې یوه قربانی د حضرت ابراهیم علیه السلام د زوی په یاد کښې کیږې، خدائ یو ګډورے راولیږلو اؤ هغه یې دَ قربانی کیدو نه بچ کړو. په کوم وخت کښې چې کله حضرت ابراهیم علیه السلام خپل زوئ قربانی کولو، نو د خدائ پاک فرښتې هغه منع کړو، او وې وئیل،

هلک له چې هیڅ تکلیف ور نۀ کړې، اؤ نۀ ورته څۀ ووایې،
اوس زه پوهه شوم چې ته د خدائ نه ویرېږې،
ځکه چې تا هغۀ ته خپل یکی یو زوئ هم پیش کړو.
(پیدایښت ۲۲: ۱۲)

کله چې هغهٔ خپل شاته وکتل، نو هغهٔ ولیدل چې یو ګډورے په بوټی کښې د ښکرو نه انښتے وو. هغهٔ ګډورے ونیولو او د سوزیدونکې قربانۍ په طور یې پیش کړو. دا پوره قیصه د تورات شریف د پیدایښت په کتاب دوه ویشتم باب کښې ده.

ګرانو ملګرو! دا ضروری ده چې زه تاسو ته دا ذکر وکړم چې یهودیان دا موقع د خاص اختر غوندې نهٔ لمانځی. خو هغوئ دا واقعه د خپل فسح د اختر په طور لمانځی، کوم چې هغوئ ته د حضرت موسیٰ علیه السلام په ذریعه ملاؤ شوې وو. په دې وخت کښې یهودی قوم دَ خدائ هغه وعده رایادوی کله چې هغهٔ په مصر کښې دَ هغوئ مشران زامن بچ کړی وو. کله چې د مرګ فرښتې د هغوئ د دروازو په دورشلو باندې وینه وکتله، نو هغې د هغوئ مشران زامن ونهٔ وژل، خو د هغوئ په کورونو تیره شوه. یهودیان دا د فسح د اختر په حیثیت لمانځی. دا قیصه د تورات شریف د هجرت په کتاب دولسم (۱۲) باب کښې ده.

دلته مونږ یو خاص سوال ته راځو:

## د عیسایانو قربانی چرته ده؟

ګرانو لوستونکو! مونږ مسیحیان دا دواړه موقعې منو یعنی عیدالاضحی( کوم چې د ابراهیم علیه السلام د قربانۍ یادګار

دے،, ځوک چې د خدائ پاک دوست وو،،) او د فصح اختر ( کوم چې د یهودیانو د مشرانو زامنو د بچ کیدو یادګار دے. خو د دې په ځائ،

## عیسایان ولې ځناور نۀ قرباني کوی؟

د دې سوالونو د جوابونو د پاره مونږ ته پکار دی چې انجیل شریف ته توجو شو، یعنی د بائبل مقدس نوې عهد نامې ته . مونږ له دا سوالونه د خدائ پاک د ذات په تعلیماتو کښې حل کول پکار دی.

## ۱. مقدس انجیل مونږ ته دا تعلیم راکوی چه خدائ پاک مینه دے.

مونږ ته پته ده چې خدائ پاک د کائناتو خالق دے. هغه خپل مخلوق سره د تعلق ساتلو لټون کوی. د خدائ پاک خوشحالی او مزه د انسان سره په تعلق کښې ده، ځوک چې اشرف المخلوقات دی. مقدس انجیل فرمائی،

خدائ پاک مینه دے او ځوک چې په مینه کښې قائم وی، هغه په خدائ او خدائ په هغه کښې پاتې کیږی.
اول یوحنا ۴ : ۱۶.

پە بل ځائ کښې فرمائی،
زه (عیسیٰ مسیح) دې له راغلے یم چې خلق ژوندون ومومی او ډیر
یې ومومی.
یوحنا ١٠ : ١٠

دغه شان مونږ ګورو چې خدائ پاک مونږ انسانانو سره تعلق ساتل غواړی. نو بیا ولې زمونږ دنیا د خدائ پاک نه ډیره لرې ده؟ ولې خلق خپل ځانونه د خدائ پاک نه لرې ګڼی؟ داسې ښکاری چې یو ډیر لوئ ګرداب مونږ د خدائ تعالیٰ او د هغهٔ د مینې نه جدا کړی یو.

٢. انجیل شریف مونږ ته دا تعلیم راکوی چې خدائ پاک مقدس دے.

آؤ خدائ پاک مقدس دے، خو انسانان ګناه ګار او ناپاکه دی. هر چرته چې مونږ ګورو نو د انسانانو ګناهونه ښکاری. د دوئ اعملونه د ګناه حقیقی مثالونه دی. ګناه د خدائ پاک خلاف بغاوت کول دی. انسانانو د خدائ پاک خلاف ګناه وکړه، اؤ هغوئ خپله ګناه پخپله د خپل ځان نه نهٔ شی لرې کولے. خدائ پاک مقدس دے او د ګناه ګارو خلقو سره تعلق نهٔ شی لرلے.

**مقدس انجیل فرمائی،**

**ټولو د خدائ پاک خلاف ګناه وکړه. هیڅوک صادق نشته یو هم نشته، داسې هیڅوک نشته چې پوهیږی، داسې هیڅوک نشته چې د خدائ طالب وی.**

رومیان ۳ : ۱۰ – ۱۱.

**په یو بل ځائ کښې مونږ لولو:**

**ځکه چې ټولو ګناه کړې ده او د خدائ پاک د لویئ نه محروم دی.**

رومیان ۳ : ۲۳.

مونږ ټولو د خدائ پاک د لارې په ځائ د ګناه لاره خوښه کړې ده. ټول انسانان د خدائ تعالٰی په پیروئ کولو کښې ناکامه شوی دی. د حضرت آدم علیه السلام د وخت نه ټولو انسانانو د خدائ پاک په لار باندې دَ تلو په ځائ په خپله لار تلل خوښ کړی دی. مقدس انجیل دې نافرمانئ ته ګناه وائی.

### ۳. مقدس انجیل مونږ ته دا تعلیم راکوی چې خدائ پاک انصاف کوؤنکے دے.

مقدس انجیل مونږ ته مسلسل بیانوی چې گناه داسې څیز دے چې دا مونږ دَ خپل مینه کونکی او مقدس خدائ پاک نه جدا کوی. د خدائ پاک پاکوالے د گناه نه نفرت کوی. د خدائ پاک کامل مقدس ذات گناه نه قبلوی. په دې وجه، انسان او خدائ پاک د گناه د دې لوئی گرداب په ذریعه جدا شول. د دې جدایئ نتیجه روحانی مرگ دے. مقدس انجیل فرمائی،

د گناه سزا مرگ دے.
رومیان ۶ :۲۳

ټولو انسانانو گناه وکړه، او د گناه سزا مرگ دے، نو بیا یو گناه گار هم بل انسان نهٔ شی بچ کولے. هم دا مسئله د هغه لوئی گرداب وجه ده کوم چې د خدائ پاک او انسان په مینځ کښې موجود دے. انسان ته د خدائ پاک ضرورت داسې دے لکه چې بلف ته د بجلئ ضرورت وی. بلف د بجلئ نه بغیر مړ او بې فائدې وی. گناه هم خلق د خدائ پاک نه جدا کړل او مونږ یې مړهٔ او بې فائدې کړلو. دې په روحانی طور مونږ وژلو.

د خدایٔ پاک انصاف هغه دې ته مجبور کړو چې ګناه له سزا ورکړی او د دې ټول عوامل تباه کړی. مونږ هر یو د خدایٔ پاک خلاف ګناه کړې ده. د دې ګناه سزا مرګ دے. خدایٔ پاک ګناه ګار انسان نۀ معاف کوی ترڅو چې د هغه انسان قرض نه وی ادا شوې. زمونږ ښۀ کارونه لکه روژې نیول او غریبانانو له خیرات ورکول، وغیره. د زمونږ قرض نۀ شی ادا کولے او نۀ خدایٔ پاک خوشحالولے شی. زمونږ ډیر ښۀ کارونه د خدایٔ پاک د پاکوالی په وړاندې هیڅ ښۀ نۀ دی. په مونږ کښې ډیر ښۀ انسان هم خدایٔ پاک په پوره طور نۀ شی خوشحالولے. په مونږ کښې هر یو کس چې څومره هم ښۀ او ډیر پاک وی نو بیا هم هغه ګناه ګار دے او خامخا به ورته سزا ملاویږی.

لنډه دا چې مونږ ټولو انسانانو د خدایٔ پاک خلاف ګناه کړې ده او مونږ د خدایٔ پاک په معیاری قانون پوره کولو کښې ناکامه شوی یو. د خدایٔ پاک پاکیزګی او انصاف د قرض ادا کولو نه بغیر معاف نۀ ورکوی.

## ۴. مقدس انجیل مونږ ته دا تعلیم راکوی چې خدایٔ پاک رحیم دے.

شکر دې چې خدایٔ پاک رحیم دے. د خدایٔ پاک د رحم دا عمل هغه مسئله حل کوی د کومې په باره کښې چې مونږ خبرې کوو. مونږ د اول نه دا وئیلی دی چې خدایٔ پاک مونږ سره دوستی کول

غواړي. خو ګناه زمونږ او د خدائ پاک په مینځ کښې ډیره لویه جدایي راوستې ده. صرف یو صادق انسان، چې د هغهٔ د ګناهونو کفاره ادا کړې شوې وی، هغه کولې شی چې د هغه ګرداب نه تیر شی او خدائ پاک ته ورسی. بیا هم مونږ مخکښې دا ووئیل چې ټولو انسانانو ګناه کړې ده او هغوئ د دې قابل نهٔ دی چې د خدائ پاک معیار ته ورسی.

صرف یو کَس دے چې مکمل پاک او مقدس دے هغه عیسیٰ مسیح دے. مقدس انجیل وائی چې یواځې عیسیٰ مسیح د خدائ پاک او ګناه ګار انسانانو په مینځ کښې پل دے. خو دلته یو سوال پیدا کیږی:

## ولې یواځې عیسیٰ مسیح؟ ولې بل څوک دا پل نهٔ شی جوړیدے او مونږ خدائ پاک ته نهٔ شی بوتلے؟

ګرانو لوستونکو! د خپلو دې بې مثاله خصوصیاتو په وجه عیسیٰ مسیح دا پل دے کوم چې لاندې ذکر شوی دی. هغه د دې قابل دے چې مونږ د پاره لاره جوړه کړی اؤ مونږ خدائ پاک ته نزدې کړی.

## ۱. معجزانه پیدائښت

په دې خصوصیاتو کښې یو خاصیت د هغهٔ پیدائښت دے چې بغیر د انسانی پلار نه وو. هغه د روح القدس په قدرت د مریم په رحم شو. هغه یواځینې انسان وو چې په معجزانه طور د یوې پیغلې نه پیدا شو. د عیسیٰ مسیح پیدائښت د انسان د مرضئ نتیجه نهٔ وو، بلکه دا د خدائ پاک رضا وه.

عیسیٰ مسیح دَ خپل معجزانه پیدائښت په وجه په ټولو انسانانو کښې بې مثاله او جدا دے. ټول پیغمبران دا منی چې هغوئ صرف انسانان وو. صرف عیسیٰ مسیح د خپل ځان په باره کښې وئیلی وو چې هغه د خدائ پاک کلام دے،
''کلمة الله''

## ۲. معجزانه ژوند

د عیسیٰ مسیح بل بې مثاله خاصیت په زمکه د هغهٔ پاک او بې ګناه ژوند وو. هغه په خپل ټول ژوند کښې په مکمل توګه د خدائ پاک د قانونو فرمانبرداره وو. د هغهٔ تعلیم د نورو په شان نهٔ وو. هغهٔ په معجزانه طور باندې رنځوران روغ کړل. هغه د پیدائیښت نه بې ګناه وو. دنیا داسې عظیم استاذ نه وو لیدلے. مقدس انجیل وائی،

هغه به نۀ جګړه کوی نه شور، او نه به په کوڅو کښې د هغۀ آواز آوریدے شی هغه به چاودلې درمه قدرې هم نۀ ماتوی، او نۀ به لوګې کیدونکې لیتکې مړ کوی، تر څو چه هغه انصاف کړے نۀ وی.

متی ۱۲ : ۱۹- ۲۰.

## ۳. معجزانه مرګ

د بې مثاله پیدائیښت سره سره، د عیسیٰ مسیح مرګ هم بې مثاله وو. عیسیٰ مسیح دنیا ته نۀ یوائې د یو لوئ استاذ او شفا ورکوونکی په طور راغلے وو. بلکه هغه دې د پاره راغلو چې قربانی شی او زمونږ د ګناهونو کفاره ورکړی. هغه راغلو چې مړ شی او زمونږ د ګناهونو جرمانه ورکړی. ځکه چې عیسیٰ مسیح د پیدائیښت نه بې ګناه او صادق وو هغۀ د خپلې ګناه په وجه کفاره کله هم نۀ ده ورکړې بلکه د هغۀ مرګ او قربانی صرف زمونږ د ګناه د کفارې ادا کولو د پاره وو.

مقدس انجیل شریف واضحه فرمائی چې ټولو انسانانو د خدائ پاک خلاف ګناه کړې ده، او هغوئ ته د خلاصون ضرورت دے. د خلاصون مطلب د خدائ پاک له طرفه معاف کیدل دی. خدائ پاک دَ کفارې ادا کولو نه بغیر مونږ نۀ معاف کوی او مونږ د دې قابل نۀ یو چې پخپله دا کفاره ادا کړو.

ګرانو لوستونکو! څوک زمونږ د ګناهونو کفاره ادا کولے شي؟ دا واضحه ده چې صرف عیسیٰ مسیح هغه واحد ذات دے چې دا کولے شي ځکه چې هغه پخپله صادق او بې ګناه دے. د دې مطلب دا دے چې هغه د ګناه قرضدار نۀ وو. عیسیٰ مسیح په خپله مرضۍ خپل ځان زمونږ د ګناهونو د کفارې ادا کولو د پاره قربان کړو. باوجود د دې چې هغه بې ګناه او صادق وو، خو عیسیٰ مسیح بیا هم په سولۍ د ټولو انسانانو د پاره قربان شو.

دا بلکل هم هغه شان وو څنګه چې خدائ پاک یو ګډورې حضرت ابراهیم علیه السلام ته راولیږلو چې حضرت ابراهیم علیه السلام یې د زوی په ځائ قرباني کړی. عیسیٰ مسیح د انسانانو د ګناه د کفارې ادا کولو د پاره په سولۍ قربان شو. د حضرت ابراهیم علیه السلام په قیصه کښې ګډورې ځکه حلال شو چې د هغه زوئ آزاد شي. عیسیٰ مسیح هم دې د پاره مړ شو چې مونږ آزاد شو. لکه څنګه چې خدائ پاک د حضرت ابراهیم علیه السلام زوئ په ګډوری بچ کړو، هم دغه شان خدائ پاک د عیسیٰ مسیح په وجه دنیا په بیعه واخسته، او آزاده یې کړه.

دَ حضرت ابراهیم علیه السلام دَ قربانۍ دَ یاد ګیرنې اؤ دَ اسرائیل دَ بچو دَ مشرانو زامنو دَ بچ کولو دَ یاد ګیرنې په شان خدائ پاک عیسیٰ مسیح زمونږ دَ ګناهونو دَ پاره قربانیدو له ورکړو. عیسیٰ

مسیح حقیقی او مکمل قربانی ده. هغه ,, د خدایځ ګډورے دے‘‘ چا چې د ټولو بنی آدمو ګناهونه لرې کړل.

ګرانو لوستونکو! د خدایځ پاک عدالت زمونږ د ګناهونو په دې کفاره ورکولو مطمئین وو د خدایځ پاک رحم د انسان د ګناهونو د قید نه په آزادیځ مطمئین وو مونږ د عیسیٰ مسیح شکر کوو چې هغهٔ زمونږ د ګناهونو کفاره ورکړه، نو اوس مونږ خدایځ پاک سره ملګرتیا او تعلق ساتلے شو.

## ۴. معجزانه طور سره بیا ژوندی کیدل

د عیسیٰ مسیح بیا ژوندی کیدل ( یعنی د عیسیٰ مسیح د مرګ نه پس بیا ژوندی کیدل دی) هم بې مثاله دی.د پیغمبرانو د پیشن ګویانو په مطابق هغه د خپل ښخیدو نه پس په دریمه ورځ د مرګ نه راپاڅیدو. د عیسیٰ مسیح بیا ژوندی کیدو دا ثابته کړه چې د هغهٔ قربانی خدایځ پاک ته قبوله وه د عیسیٰ مسیح په معجزو کښې دا د ټولو نه لویه او عظیمه معجزه وه بیا ژوندی کیدل د خدایځ پاک د هغه تصدیق مهر او ضمانت دے چې هغه د عیسیٰ مسیح قربانی د همیشه د پاره قبوله کړې ده.مونږ په مقدس انجیل کښې لولو:

ما د ټولو نه وړومبے هغه اهمه خبره در ورسوله کومه چې ما ته رارسیدلې وه چې عیسیٰ مسیح د کتاب مقدس په مطابق زمونږ د

ګناهونو د پاره مړ شو، اؤ ښخ شو او د کتاب مقدس په مطابق په دریمه ورځ بیا ژوندے پاڅیدو او هغه پطروس ته ښکاره شو او د هغۀ نه پس هغه دولسو کسانو ته.او بیا وروښو ته چې د پنځو سوو نه زیات وو یو ځل ښکاره شو.

اول کورنتیان ۱۵ : ۳- ۶

ګرانو لوستونکو! عیسایان په ټوله دنیا کښې د حضرت ابراهیم علیه السلام د قربانۍ اختر او په مصر کښې د اسرائیل د بچو د قربانۍ اختر د عیسیٰ مسیح د مرګ او د بیا ژوندی کیدو د اختر په طور لمانځی. دا اختر د,,ایسټر،، بیا ژوندی کیدو اختر په نوم مشهور دے. مونږ دا اختر هر کال لمانځو.

ګرانو لوستونکو! خدائ پاک مونږ ته د حقیقی خلاصون په باره کښې تعلیم د دې واقعاتو په ذریعه راکوی. مقدس انجیل فرمائی چې د سخو او ګډو وینه زمونږ ګناهونه نۀ شی وینځلې. دا هم فرمائی چې زمونږ ټول نیک کارونه هیڅ هم نۀ دی دا د خدائ پاک دَ صداقت په وړاندې د ګنده کپړې نه زیات نور هیڅ نۀ دی. د چا نیک کارونه هم د هغۀ د خپلو ګناهونو کفاره نۀ شی ورکولے.

قادرِ مطلق خدائ عیسیٰ مسیح دنیا ته راولیږلو چې هغه د دنیا ګناهونه واخلی او پخپله د هغه ګناهونو کفاره په یو ځائ ورکړی.

هغه حقیقی او ابدی قربانی ده. عیسیٰ مسیح راغلو چې د دنیا دَ هرې یوې قبیلې او قوم خلق بچ کړی. د عیسیٰ مسیح په ذریعه مونږ خدائ پاک ته نزدې کیږو او په خپل ژوند کښې د هغۀ مینه محسوسوؤ. څنګه چې مقدس انجیل فرمائی،

ځکه چې د ګناه بدل مرګ دے خو د خدائ پاک بخښنه زمونږ په مالک عیسیٰ مسیح کښې د تل ژوندون دے.

رومیان ۶ : ۲۳

ګرانو لوستونکو! مونږ د خدائ پاک شکر کوو چې هغۀ د ګناهونو نه زمونږ د پاره د خلاصون لاره جوړه کړه. خدائ پاک زمونږ دَ پاره دا ممکن کړل چې مونږ هغۀ سره دَ عیسیٰ مسیح دَ قربانۍ په وسیله بیا یوځائ شو. مونږ د خدائ پاک نه دعا غواړو چې هغه مونږ له د دې قربانۍ منلو قدرت راکړی نو چې مونږ د هغه نعمت نه فائده واخلو کوم چې هغه سره د عیسیٰ مسیح په وسیله مونږ د پاره دے. آمین.

# Sacrifice

Pashto

# قربانی

پشتو